AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۰/۲۴

# د ګناه ټیکه داران

زموږ د ویر سندرې خلاصې نه شوې

زموږ د غم ننداره پای نه لري

تورې لښکرې دي راوستي بل چا

موږه په خپله را شکارلي دي په خپلو غوښو

موږ د ګناه ټیکه داران یو خپله

چې له ګناه نه خلاصیدلای نه شو

موږه د تولي نړی

د ثوابو او اجرو

د عذابو سر لښکر

ګناه ته بس یوازې موږه هست یو

داسي په اجر پسي منډې وهو

ښايي د ګردې نړی

د ګناهونو پيټی

طوق لعنت د دنيا

زموږ په غاړه کې وي

چې د بخشش په تمه

په ثوابونو پسي منډې وهو

او د جنت په هیله

د ژوند دا ښکلي بیری

جنت ته ورته نړی

موږه په خپله دوزخ کړې ځان ته
۲۰۱۴/۰۴/۰۸
هیدرسلیف، ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ